**عمومی منشی**
**د سولی د نړیوالی ورځي په مناسبت پیغام**
**<u>د 1388 کال د وږی ۳۰ نیټه</u>**

د سولی نړیوالی ورځ د اور بند او د تاوتریخوالی د نشتوالی لپاره یوه نړیواله غوښتنه ده.

دا هغه وخت دي چې موږ باید د دي ورځی درناوي او د جګړي بیه ته انعکاس ورکړو او همدارنګه د شخړو د سوله ییزو حلولو لپاره زموږ د دندو لپاره یو فرصت دی.

د جګړي اکثره قربانیان بی وسه کسان دي. بیګناه ملکی کسان، پلرونه، میندي او ماشومان.

پرته له سوله دوي د خپل د ژوندانه د ښه کولو لپاره لږ امید لري. د بیوزلی د خلاصون لپاره لږ امید لري.

اکثراً هغه کسان چې د بیوزلو کسانو په استازیتوب کار کوي هم په ښنه کیږي.

ژورنالستان، طبی مسلکی کسان، د بشری مرستو کارکوونکي، د ملګرو ملتونو کارکوونکي او سوله ساتونکي کسان هم تر برید لاندي راځی.

جګړه ماران، جنګ سالاران، د جګړو د تجهیزاتو برابرونکي او تمویلکوونکي ټول د ژوند په مقابل کي په بی احساسه ډول بی تفاوتی ښکاره کوي.

د سولی د نړیوالي ورځی په مناسبت موږ ټولو ته دا ښیو چي یوه ډیره ښه بله لاره هم شته.

د سولی لاره

موږ باید وهڅول شو تر څو د ملتونو او هیوادونو ترمنځ جګړه لږه واقع او دیپلوماسی او خبري اتري په یو پرله پسی انتخاب بدل شي.

اند دا چي که هیوادونه د یوی داخلی شخړي څخه هم متاثره شوي وي، تاریخ ښیی، که چیري کافی اراده موجوده وي، سوله منځته راتلاي شی.

داسی زیات مثالونه شته چي د سولی مدافعین د نفرت غږونه په بریالیتوب سره خاموشه کړي دي.

زه هم د هستوی بی وسلو کولو په اړوند د نړیواله ټولنی د نوي ژمنی په هکله خپله هیله څرګندوم.

نو ځکه ما "موږ باید بی وسلی کړو" کمپاین لاری ته اچولي. تر هغه وخته چي دغه وسلی موجودي وي، هیڅ یو به خوندي نه وي.

د سولی د نړیوالی ورځی په مناسبت زما ساده پیغام دا دي: موږ باید بی وسلی کړو، موږ باید سوله ولرو.

د نړۍ د ټولو خلکو څخه غواړم چي دغه کوښښ سره یو ځاي شي. د ملګرو ملتونو ملاتړ وکړي او د سولی په اړوند خپله ونډه تر سره کړي.